مصطفی پسرلی

۲۰۱۸/۱۱/۲۰

# غزل

ګریوان شو خیري خیري ارمانونه راته ژاړي
توټه توټه وجود کې پیوندونه راته ژاړي

ځان نشم بېلولی د رنځونو له جهانه
آشنا یم د دردونو پرهرونه راته ژاړي

پیکه غوندې تصویرشوم، شوخ رنګونه رانه ورک شول
په خړو آیینو کې تصویرونه راته ژاړي

نادودې  په ما وشوې چې غلام ابن غلام شوم
په پښو کې د بې وس ژوند زنځیرونه راته ژاړي

ویده خلک د دې ښار پسرلیه! نه وینـېږي
نیمګړي دي میرات دي تعبیرونه راته ژاړي

مصطفی پسرلی
22/09/2018


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ